لوړو زده کړو وزارت

ننګرهار پوهنتون

ساینس پوهنځی

پلان او پالیسي کمیټه

# د ساینس پوهنځي ستراتیژیک پلان



۱۴۰۱-۱۴۰۵ ل ل

د افغانستان اسلامي امارت

لـــوړو زده کـــــړو وزارت

ننګرهار پوهنـــتـــون

ساینس پوهنـځی

د پلان او پالیسي کمېټه

# د ساینس پوهنځی ۱۴۰۱-۱۴۰۵ ل.ل کال ستراتېژیک پلان

یاد ستراتیژیک پلان د پوهنځی پلان او پالېسی کمیټي په غونډه کې مطرح، د رایو په یووالي سره تائید او په (۸) ۱۴۰۲/۷/۲۵ ګڼه پرتوکول کې ثبت دی.

د پوهنځی د پلان او پالېسی کمټي مشر
پوهندوی خلیل الله عابد

یاد ستراتیژیک پلان د پوهنځی په علمي شورا کې مطرح، د رایو په یووالي سره تائید او په (۹) ۱۴۰۲/۷/۳۰ ګڼه پروتوکول کې ثبت دی.

**د پوهنځی د علمي شوار منشي**
**پوهندوی محمد جواد نیازی**

یاد ستراتیژیک پلان د پوهنتون د پلان او پالیسی کمیټي په (۱۴۰۲/۸/۱) نېټه او (۹) پروتوکول کې مطرح او د رایوو په یووالی سره تایید شو.

**د پوهنتون د پلان او پالېسی کمټي مشر**
**پوهنمل عبدالهادی زمانی**

یاد ستراتیژیک پلان د پوهنځی د ننګرهار پوهنتون د علمي شورا په (۶ / ۸ / ۱۴۰۲) نېټه او (۶) پروتوکول کې مطرح او د رایوو په یووالی سره تایید شو.
**د**
**پوهنتون د علمي شورا منشي**
**لاسلیک (                )**

د ساینس پوهنځی (۱۴۰۱-۱۴۰۵) ل.ل ستراتېژیک پلان تایید دی.
**د ننګرهار پوهنتون رئیس**
**پوهاند دوکتور خلیل احمد بهسودوال**
**لاسلیک (                )**

**د مطالبو فهرست**

عنوان

مخکڼه


د پوهنځي د رئيس خبري ........ 1

۱. مقدمه........ 3

۲. پېژندنه ........ 4

۳. د ساينس لرليد ........ 7

۴. ساينس پوهنځي ماموريت........ 7

۵. ارزښتونه........ 7

۶. د پوهنځي موخي........ 7

۷. علمي څېړنو او نواورۍ پراختيا او هڅونه ........ 8

۱,۷. برنامي........ 8

۷. ۲. علمي او اکاډميکي برنامي........ 8

۳,۷ خيرني، تأليف او ژباړه ........ 9

۸. ښه حکومتولي او د فساد سره مبارزه ........ 10

۱,۸ رهبري ........ 10

۸. ۲. د فساد پر وړاندې مبارزه........ 10

۸. ۳. اداري بيروکراسي ........ 10

۸. ۴. د عملياتي پلان تاييدول........ 11

۸. ۵. د څارني او ارزوني پياوړي کول........ 11

۸. ۷. د پوهنځي د بوديجې زياتوالی........ 11

۹. د کريکولم پراختيا ........ 12

۹. ۱. د ښوونيزو موادو چمتو والی ........ 12

۱۰. د کيفيت تضمين او اعتبار ورکونه........ 12

۱۱ . د بريښنايي زده کړو پروګرامونه ........ 13

۱۲. معالوماتي ټکنالوژۍ ته لاسرسی........ 13

۱۳. زېربناوې........ 13

۱۴. د کادر غړو ظرفيت لوړول ........ 14

۱۵. له علمي او غير علمي نهادونو سره د اړيکو پياوړتيا او پراختيا ........ 14

۱۵. ۱. د مرستو جلبول........ 15

۱۶. لوړو زده کړو ته عادلانه لاس رسی........ 15

۱۶. ۱. لوړو زده کړو ته پراخه لاسرسی........ 16

۱۶. ۳. د کریډیټ سیستم پیاوړتیا او پلي کول ........................................................ 16
۱۶. ۴. د محصیلینو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا ................................................ 16
۱۷. په ټولنه کې ونډه اخېستنه ...................................................................................... 17
۱۸. د داخلي عواملو تحلیل ........................................................................................... 17
۱۹. لندمهالې موخې ....................................................................................................... 19
۲۰. عملیاتي برنامو تدوین .............................................................................................. 20
۲۱. د مالي پلان جدول .................................................................................................. 21
۲۲. پایله ........................................................................................................................ 26

## د پوهنځي د رئیس خبري

اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِیْنَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلَامُ عَلىَ اَشْرَفِ اْللأَنْبِیاَءِ وَالْمُرْسَلِیْنَ سَیِّدِناَ وَمَوْلَنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى اَلِهِ وَصَحْبِهِ اَجْمَعِیْنَ, اَمَّا بَعْدُ

ننګرهار پوهنتون ساینس پوهنځی د خپل ماموریت او لرلید په رڼا کې خپلو موخوته د رسېدو لپاره اړتیا لري، چې یو مناسب پلان جوړ کړي تر څو ددې پلان پر مټ خپلو موخو ته ورسیږو، په دې اساس موږ د خپل تېر پنځه کلن ستراتېژیک پلان ،چې په (۱۴۰۰) کال کې ختم شوی د ارزونې په بهیر کې د پوهنتون قوت او ضعف ټکي رابرسېره کړو او راتلونکي پنځو کلونو لپاره (۱۴۰۵) د بهرني چاپېریال هغه عوا مل چې ددې علمي کانون(نهاد) چارې ننګوي او یا ورته فرصت برابروي ، همدارنګه هغه کورني عوامل چې د ضعف او یا قوت مسایل را برسېره کوي، په رڼا کې لنډ مهال او اوږد مهاله د لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره ستراتېژیک پلان ترتیب کړ.

ددې پلان د عملي کېدو په اساس بــــه د کارمندانو لپاره د کار وېش، د مسؤلیت احساس او نوښتونو ته زمینه برابره شي او موږ به په پایله کې د خپلو کورنیو او بهرنیو تآثیرګزارو عواملو د څارلو په اساس ټاکلي وخت خپلو موخو ته ورسېږو، په پای کې ځای لري، چې د ساینس پوهنځي قدرمن مرستیال پوهندوی استاد محمد جواد نیازی د پلان او پالیسی کمېټې مشر ښاغلی پوهندوی خلیل الله عابد او غړو د نه ستړې کېدونکو هلو، ځلو څخه چې ددې پلان په جوړولو کې یې ګاللي او د ټولو هغو ذیدخلو ارګانونو څخه ، چې په دې اړه خپل سالم نظریات په وخت موږ سره شریک کړي مننه کوم.


**والســـلام**

**د یو با کیفیته تحصیلي نظام په هیله**

**پوهنمل رفیع الله رفیع**

**د ساینس پوهنځي رئیس**

# د ساینس پوهنځي ستراتېژيکي برنامې چوکاټ




انځور ۱: د ساینس پوهنځی ستراتیژیک برنامې چوکاټ بنیي.

**۱. مقدمه**

د نړۍ هر اړخيزې پراختيا او چټک پرمختګ او هم د نړۍ چاپېريالي بدلون، د لوړې کچې برخه کې له ننګوونو سره مخ کړي دي، تر دې چې د چارو او خطراتو د مديريت په برخه کې حتی ډېره وړه تېروتنه هم په سازماني کچه لوی بحران وزېږي. همدا لامل دی چې مديران د سازمانو چارو د سمون او د اوږود مهاله موخو د ترلاسه کولو لپاره د ستراتيژيکي برنامه ريزۍ شديده اړتيا محسوسوي، ترڅو له يوې خوا سازماني فعاليتونه او متوقع خطرات مديريت کړي او له بلې خوا بهتره موقعيت او ځای ته د ادارې او سازمان د رسېدو مزل يقيني کړي.

همدا لامل دی چې ستراتيژيک پلان جوړوونه کولی شي مديران، سازمانونه او ادارې د خپلو موخو د ترلاسه کولو او متوقع احتمالي ستونزو سره د مقابلې په برخه کې په هر ډول د تغير وړ شرايطو کې سم مسير ته سوق کړي. د سازماني ستراتيژيک پلانونو څخه د ګټې اخيستنې له لارې کېدلی شي فعاليتونه په ښه ډول ترسره شي او هم کېدلی شي چې د خپل چاپيريال په نسبت د فعاليتونو د ترسراوي په برخه کې په سم ډول او ښه وخت کړنې ترسره شي.

ستراتيژيک پلان د يوې ادارې او سازمان په موخو ماموريت او د هغوی د ترلاسه کولو او ورته د رسېدو پورې تړاو لري. يا هم ستراتيژيک پلان هغه سند دی چې د يوې ادارې يا سازمان موخې، سياستونه او پاليسی، او سره تړلي عملياتي کړنې په يوې ګُلي کالب کې سره يو ځای کوي او په دې ډول واحد ترکيب ورکوي. ستراتيژکه پلان جوړونه يوه تولیزه او عملي برنامه ده چې د يوې ادارې او سازمان لوری مشخص کوي او اوږود مهالو موخو ته د رسېدو په برخه کې د منابعو د تدارک لارښوونې په لاس ورکوي.

په اکاډميک چاپيريال کې، پوهنتونونه او پوهنځي هم يو شمېر زيات فرصتونه، بهرنۍ ننګوونې، او د ځواک او کمزورۍ له داخلي فکتورونو سره مخ دي او مختلفو عواملو لکه (سياسي، اقتصادي، فرهنګي، تکنولوژيکي) سره لاس و ګريوان دي. له بله پلوه ګڼ شمېر داخلي عوامل لکه د پوهنتون علمي شورا، د محصلانو او فارغانو ټولنه يا شبکه، کارکونکي، استادان او د علمي کادر غړي، اداري سيستمونه، تحصيلي نصابونه، محصلانو د خدماتو وړاندې کول، برېښنايي زده کړې او حکومتولي هم د ځانګړي پاملرنې وړ دي.

پورتنو چارو ته په پام سره، اړينه ده ترڅو ننګرهار پوهنتون ساينس پوهنځی د خپلو علمي موخو د تحقق او لاسته راوړلو په منظور له داخلي او بهرني چاپيريال سره اوږدمهاله اړيکه ولري او د پوهنځي د لوړې کچې موخو ته د رسېدو په خاطر د عملياتي پلانونو په تدوين لاس پورې کړي.

د ننګرهار پوهنتون ساينس پوهنځي د ستراتيژيک پلان جوړوونې په برخه کې چې کوم مډل او تګلاره غوره شوې، خورا جامع او د نن ورځې مروجه بڼه ده. د ستراتيژيک پلان جوړوونې دا موډل په دوو ټوليزو پړاوونو ويشل کېږي. لومړی پړاو يې د ننګرهار پوهنتون د ستراتيژۍ تدوين ده چې په دوو مرحلو کې ترسره شوې ده، لومړی د پوهنځي پېژندنه او د دې کار د ترسره کولو لپاره ځينې ځانګړي معلوماتي فورمې ترتيب او له مخې يې معلومات راټول شوي دي، التبه دا کړنه د ساينس پوهنځي د فعلي وضعيت ارزوونې لپاره ترسره شوې. په دويم ګام کې د SWOT له تګلارې څخه په ګټې اخيستنې د ساينس پوهنځي د فعلي وضعيت تحليل او ارزوونه شوې چې له مخې يې د ساينس پوهنځي د ځواک، کمزورۍ، ننګوونو او فرصتونو موارد لسټ شوي دي او بيا يې هر مورد ته رتبه او ضريب په پام کې نيول شوی دی. د يادونې وړ ده چې په دې تحليل کې د ساينس پوهنځي استادانو/علمي کادر غړو، او همدا راز له يو شمېر په کار پوه محصلانو او فارغانو څخه معلومات اخيستل شوي دي

چې په نهایت کې د SWOT په پایله کې د ساینس پوهنځي فعلي وضعیت تهاجمي وګڼل شو. له دې څخه موخه دا ده چې د پوهنځی څواکمني ستراتیژۍ باید په داسې ډول واوسي چې له چاپېریالی فرصتونو څخه په استفادې د کمزورۍ په داخلي نقطو لاس بري شي او کمزوریانې راکمې کړي. له دې وروسته د ساینس پوهنځي لرلید، ماموریت او ارزښتونه تدوین شوي دي چې دې چارې ته د ستراتیژیک مسیر د استقرار او ثبات پړاو وایي. د پورته کړنو په تعقیب د پوهنځي عمومي موخې او ستراتیژیانې ټاکل شوي. په دویم پړاو کې د ساینس پوهنځي موخو او موخو ته په پام سره کاري پلانونه تدوین شوي او د ترسراوي لپاره یې ځانګړي عملیاتي پلانونه په پام کې نیول شوي دي.

د یادونې وړ ده، چې د ساینس پوهنځي دا ستراتیژیک پلان د پنځو (۱۴۰۱-۱۴۰۵) کلونو لپاره د ننګرهار پوهنتون ساینس پوهنځي د مخکینې ستراتیژیک پلان په تعقیب تدوین شوی دی، او تر ډېره هڅه شوې ده ترڅو ټولې هغه موخې چې په پخواني پلان کې نه دې ترلاسه شوي په دې پلان کې ارزوول شوي او په پام کې نیول شوي دي.

## ۲. پېژندنه

داچې زمونږ په ګران هیواد کی صنایع دنسبی انکشاف په حالت کی قرار لری او همدارنګه په معارف کی دشاګردانو زیاتوالی اود مسلکی استادانو کمښت ، ددی باعث ګرځیدلی چی د ساینس پوهنځی دننګرهار پوهنتون په چوکات کی ایجاد شی نو په همدی اساس د ساینس پوهنځی د ننګرهار پوهنتون یو د هغه پوهنځیو څخه دې چی په۱۳۹۰ کال کې تأسیس شوی چی د ریاضی –فزیک او کیمیا – بیولوژی ډیپارتمنتونو لرلو سره په فعالیت شروع کړی او په ۱۳۹۴ کال کی خپل لومړنی فارغان د لسانس په سویه په یاد ځانګو کی جامعی ته وړاندی کړ. دیاد پوهنځی اکادمیک جوړښت په ۱۳۹۳ کال کی تغییر وموند په پروګرمونو کی یی اصلاحات رامنځته شوه، پروګرامونه یی اختصاصی شکل غوره کړه اوس د ریاضی ،فزیک ، کیمیا ، بیو لوژی او معادن ډیپارتمنتونو لرونکی دی. د یاد پوهنځی د ډیپارتمنتونو په درسی پروګرامونوکی اساسی، اختصاصی ، فرعی او پوهنتونی مضامین شامل دی. یاد پوهنځی دولس کمیټې (د کیفیت د تضمین او لوړونې ، کریکولم ، ریسرچ،نظم –دسپلین،نشراتو،د امتحانانواو شکایاتو، الیکترونیکې زده کړو، مالی او د بورسونو، ...) لری، همدارنګه په یاد پوهنځی کی د کریدیت په سیستم تدریسی پروګرامونه مخکی بیول کیږی په یاد پوهنځی کې د ساینس پوهنځی د رشد او انکشاف لپاره د جرمنی هیواد د وردز بورګ پوهنتون د DAAD موسسی د مالی مرستی په همکارۍ د لابراتوارونو د سامان تهیه او نصبول او کتابونو تهیه کول دی چی د پوهنځی استادان او محصلان ورڅخه ګټه اخلی.

دساینس پوهنځی ودانی د پاکستان هیواد په مالی مرسته جوړه شوی چی یوه معیاری ودانی دی او په کافی اندازی سره تدریسی خونی لری .

. اوس مهال په دغه پوهنځی کې ۵ ډیپارتمنتونه فعال او استادان یې په بېلا بېلو ځانګو کې تدریس کوي او خپل علمي فعالیتونه پر مخ وړي چې تفصیل یې د ضمایمو د جدولونو په برخه کې په (۱) ضمیمه کې قرار لری.

اوسمهال پدې پوهنځی کې ( ۹۰۶ ) محصلان په زده کړه بوخت دي چې د هر تعلیمي کال په پاي کې لږ او ډېر ( ۲۰۰ - ۳۰۰) محصلان فارغان خپلې ټولنې ته د چوپړ په موخه وړاندې کوي. د نویو زده کوونکو د نوم لیکنې او شاملیدنې شمیر په هر یو کال کې ۶۰۰ – ۷۰۰ تنو ته رسیدلي او لا هم پسې زیاتیږي.

دغه نوی ستراتیژیک پلان د ۱۴۰۱ څخه تر ۱۴۰۵ کلونو له پاره ترتیب شو او په عملي کېدو سره به یې پوهنځی د دې توان پیدا کړي چې خپلې لازمه او ټاکلو موخو ته ورسیږي.

په دې پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې ساینس پوهنځی خپل لیدلوري او موخو ته په کتو د خپل ماموریت په موثره توګه ترسره کېدو لپاره ټولې اړتیاوې او اسانتیاوې په هر اړخیزه توګه په پام کې نیولې دي.د دې پلان د ترتیبولو لپاره د پوهنځي اداري له خوا د پلان او پالیسی کمېټه ټاکل شوې، چې غړي یې له ټولو اړوندو ډیپارټمنټونو څخه ټاکل شوي دي. په یاد پلان کې پر بنسټیزو تاسیساتو او اسانتیاوو رامنځته کولو سربېره، د پوهنځي علمي، اکاډمیکو او څېړنیزو چارو د پراختیا په برخه کې ظرفیت لوړونې او علمي پروګرامونو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. دغه راز ددې ستراتیژیک پلان په ترتیبولو کې د پوهنځي تېر ستراتیژیک پراختیایي پلانونو او د پوهنځي ښکیلو خواوو رغنده نظرونه په پام کې نیول شوي. په ذکر شوي پنځه کلن پلان کې ټولې هغه برخې چې په تېرو ستراتیژیکو پلانونو کې یې چارې نیمګړې پاتې وې په پام کې نیول شوي او د پوهنتون او پوهنځي اداري یې بشپړېلي کېدو ته ژمني دي.

د یاد پلان له پلي کېدا وروسته به پوهنتون او ساینس پوهنځی په سیمه ییزه کچه ځانګړی باور ترلاسه کړي، چې په نتیجه کې به د لوړو زده کړو وزارت مقام وهڅول شي چې پوهنتون ته هر اړخیزه مالي، اداري او اکاډمیکه خپلواکي ورکړي او پوهنتون به د لا پرمختګ او ودې فرصتونه ترلاسه کړي.

**د تحصیلي درجې پر بنسټ د ساینس پوهنځي د استادانو شمېر**


| جنسیت | دوکتور یا PhD | ماستران | لسانس |
|---|---|---|---|
| نارینه | ۰ | ۲۳ | ۴ |
| ټول | ۰ | ۲۳ | ۴ |

**د علمي رتبې پربنسټ د ساینس پوهنځي استادانو شمېر**


| جنسیت | پوهاند | پوهنوال | پوهندوی | پوهنمل | پوهنیار | نامزد پوهنیار |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نارینه | ۰ | ۲ | ۴ | ۶ | ۱۱ | ۴ |
| ټول | ۰ | ۲ | ۴ | ۶ | ۱۱ | ۴ |

**د استادانو ټولیز شمېر**

| ۳۰ |
|---|




انځور۲: په ۱۴۰۰ ل کال کې د علمي رتبي پربنسټ د استادانو سلنه راښايي.




انځور۳: په ۱۴۰۰ ل کال کې د تحصيلي درجې پر بنسټ د استادانو سلنه راښايي.

**د تير ستراتيژيک پلان(۱۳۹۶ – ۱۴۰۰ ) ناکامۍ لاملونه:**

دا چې د تیرستراتیژیک پلان د پلي کولو په پایله کې ځینې لاسته راوړنې هم لرو او ځینو ستراتیژیکو موخو ته رسیدلي یو، خو له دې سره د ځینو بنسټیزونو لاملونو له امله ونه توانیدو چې خپل یو شمیر ستراتیژیکي موخې په ټاکل شوي زماني مقاطعو کې ترلاسه کړو. هغه عمده ستونزې چې زموږ د تیر ستراتیژیک پلان په پلي کولو کې خنډونو په توګه په ګوته شوي په لاندې ډول دي.

۱. د لوړو زده کړو وزارت او ننګرهار پوهنځی ترمنځ د علمي، پراختیایي، مالي او نورو برخو کې کمزورې همغږي چې ساینس پوهنځي ته په کې له ځو اړخونو زیان ورسید.

۲. د ځینو پیچلو لوایحو، کړنلارو او اوږدو پروسیجرونو او پروسو شتون. د بیلګي په توګه د اوږدو، پیچلو تدارکاتي پروسو شتون، د نويو علمي برنامو د ایجاد اوږدې پروسې.

۳. ناکافي بشري ځواک( مسلکي، اداري او خدماتي)

۴. د کرونا ځپونکې څپې چې لامله یې نه یوازې د پوهنځي په کچه بلکه د پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت په کچه علمي، پرمختیایي، تدریسي او نورې برنامې تعطیل او د خنډ و ځنډ سره مخ شوې.

## ۳. د ساینس لرلید

ساینس پوهنځی غواړي د اغېزناکې رهبرۍ او تخصصي بشري ځواک په لرلو د ټولنې اړتیاوو سره سم، د معیاري تحصیلي خدماتو او علمي څېړنو په ترسره کولو د علم تولید او د هېواد هر اړخیزې دوامدارې پرمختیا په برخه کې د هیواد په کچه ځانګړی مقام خپل کړي.

## ۴. ساینس پوهنځي ماموریت

ساینس پوهنځی د علم تولید، معیاري علمي څېړنې او لازمو مهارتونو په اساس د کار د بازار اړتیاوو ته په کتنې ټولنې ته د مسلکي او ژمنو کادرونو وړاندې کول خپل ماموریت ګڼي، په دې توګه د هېواد په هر اړخیز ټیکاو او دوامداره پرمختیا کې اغیزناکه برخه اخلي.

## ۵. ارزښتونه

- ✓ **اسلامي او ملي ارزښتونو ته درناوی**
- ✓ **رښتینولي**
- ✓ **کاري ژمنتیا او پر مسلکیتوب باور**
- ✓ **نوښت**
- ✓ **کیفیت**
- ✓ **احترام او مسلکي چال چلن**
- ✓ **د چارو روڼتیا او حساب ورکول**

## ۶. د پوهنځي موخې

د ساینس پوهنځی ستراتېژیک پلان جوړونې څخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی تر څو په ټولنه کې د شته ناورینونو او ستونزو پای ته رسېدو په برخه کې خپله ونډه واخلي. پوهنځی د ټاکلو ارزښتونو، لیدلوري او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې وړ، مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندې کولو جوګه شي. پوهنځی پورته ارزښتونو او لیدلوري ته د رسېدو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې موخې تعقیبوي:

1. علمي او څېړنيزو چارو په برخه کې په ملي او نړيوالو معيارونو سره د پوهنځی عيارول
2. د بېلابېلو علمي او تخصصي پروګرامونو پراختيا او له نړيوالو منل شوو معيارونو سره يې برابرول
3. د لوړو زده کړو په برخه کې د شفافيت بهير لا پياوړی کول
4. د څېړنو پر مټ د ټولنې ستونزو پېژندل او ورته مناسبې حللارې پيدا کول
5. د زيربطو ادارو او اشخاصو په وړاندې د پوهنځی څخه اغېزمنه استازولي او له دوی سره د ښو اړيکو ټينګول

**د کليدي کړنو د شاخصونو په نظر کې نيولو سره د پوهنځی ستراتېژيک موخې**

د ساينس پوهنځی ستراتېژيک پلان جوړونې څخه موخه د لوړو زده کړو د بهير چټکتيا او ښه والی دی چې په ټولنه کې د شته ناورينونو او ستونزو پای ته رسېدو په برخه کې خپله ونډه واخلي. پوهنځی د ټاکلي ماموريت او معيارونو په پام کې نيولو سره داسې وړ، مسلکي او معياري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د اغېزناک خدمت وړاندې کولو جوګه شي. ساينس پوهنځی پورته ارزښتونو او ليدلوري ته د رسېدو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. په دوامداره توګه د وخت د شرايطو او بازار د غوښتنو په پام کې نيولو سره معياري زده کړې وړاندې کول
2. د لسانس پروګرامونو زياتوالی او معياري کول
3. د لسانس پروګرامونو پېل کولو او زياتولو په موخه د علمي کادر غړيو لپاره د نورو لوړو زده کړو زمينه برابرول
4. د ښو علمي او څېړنيزو پرمختګونو په موخه څېړنيز مرکز درلودل
5. په علمي او اکاډميکو چارو کې د خپلواکۍ په لرلو سره د نورو پوهنتونونو له ساينس پوهنځيو سره سالمې سيالۍ ته چمتوالی

## ۷. علمي څېړنو او نوآورۍ پراختيا او هڅونه

### ۱،۷. برنامې

ساينس پوهنځی د هېواد پرمختګ لپاره يو لړ لسانس پروګرامونه پر مخ بيايي او يو لړ نوي پروګرامونه په ياده برخه کې د راتلونکو پنځو کلونو په موده کې ايجادوي ، چې په دې پار لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د موجوده لسانس پروګرامونو بياکتنه او د ښه والي لپاره يې هڅې
2. نويو علمي پروګرامونو د ايجاد لپاره د لازمو کادرونو، وسايلو او امکاناتو چمتوالی
3. د څېړنو لپاره د اسانتياوو برابرول
4. د بهرنيو مرستو جذب، ترلاسه کول او اغېزمن استعمال
5. د پروګرام د پايښت لپاره د اغېزمنې استراتيژۍ انکشاف
6. ټولنې ته د خدمت لپاره د غوره او لوړ کېفيت فارغانو وړاندې کول

### ۷. ۲. علمي او اکاډميکي برنامې

د پوهنتونونو، پوهنځيو او علمي بنسټونو اصلي دنده د علمي کړنو ترسره کول دي. په همدې اساس، ننګرهار پوهنتون ساينس پوهنځی په پام کې لري چې د يو با کيفيته او پرمختللي پوهنځي په توګه بېلابېل

ساینسي او څېړنیز پروګرامونه پر مخ یوسي چې له امله یې په هېواد او نړۍ کې د انساني ژوند په ښه والي او پرمختګ کې پوره ونډه لرلي وي. په دې لړ کې ساینس پوهنځی د علمي او اکاډمیکو پروګرامونو د پیاوړتیا لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د تخصصي او مسلکي برخو د پرمختګ په موخه نویو علمي پروګرامونو ایجادول، چې عبارت دي له:

a. د نویو څانګو ایجاد:

i. د computational Chemistry Department فارغ ده (۱۴۰۵ کال)
ii. د فارمیسي څانګه په ساینس پوهنځي کې ایجادول
iii. د فزیک څانګه په څلورو (اتومي او هستوي فزیک، نظري فزیک، الکترونیک فزیک، Material Science څانګه) غیر فارغ ده ډیپارټمنټونو ویشل. (۱۴۰۵ کال)
iv. کېمیا څانګه په دوه ( عضوي کېمیا څانګه، غیر عضوي کېمیا څانګه) غیر فارغ ده ډیپارټمنټونو ویشل. (۱۴۰۵ کال)
v. بیولوژي څانګه په دري (زولوژي، بوټاني او بایو ټیکنالوژي) غیر فارغ ده ډیپارټمنټونو ویشل.(ساینس پوهنځی) (۱۴۰۵ کال)
vi. ریاضي څانګه په دري (تطبیقاتي ریاضي، Pure Mathematics، تفاضلي معادلاتو) غیر فارغ ده ډیپارټمنټونو ویشل.(ساینس پوهنځی) (۱۴۰۵ کال)
vii. جیولوجي معادن څانګه پوهنځي کچي ته لوړول. (۱۴۰۵ کال)

b. د شپې پروګرامونو ایجاد:

i. د ریاضي څانګې برنامه (۱۴۰۴)
ii. د فزیک څانګې برنامه (۱۴۰۴)
iii. د کېمیا څانګې برنامه (۱۴۰۴)
iv. د بیولوژي څانګې برنامه (۱۴۰۴)

2. د بورسیو لاسته راوړل
3. د څېړني معیاري کول
4. د ښوونیزو ورکشاپونو او ټریننګونو دایرول
5. د سمپوزیمونو او ننداړتونونو ته پراختیا ورکول
6. د معالوماتي ټکنالوژۍ سرچینې تشخیص او کارول
7. علمي نصاب د مارکیټ او بازار غوښتنو سره عیارول
8. د کتابتونونو معیاري کول
9. د علمي تجربو د شریکولو په موخه له نورو پوهنتونونو څخه د استادانو ( Visiting Professors ) رابلل
10. د علمي سیرونو پراختیا

**۳،۷ څېړنې، تألیف او ژباړه**

**ترسره کوونکي** **شمیر**

د پوهنځي د علمي کادر غړو لخوا ترسره کیدونکې څیړنې:   ۱۰۰

د پوهنځي د علمي کادر غړو لخوا ترسره کیدونکی تالیفات:   ۱۰

د پوهنځي د علمي کادر غړو لخوا ترسره کیدونکې ژباړې:   ۳۰

د پوهنځي د پنځه ګونو څانګو د ممتازو محصلینو لخوا ترسره کیدونکې څیړنې: ۴۰۰

## ۸. ښه حکومتولي او د فساد سره مبارزه

### ۱,۸ رهبري

په هره اداره کې موخو ته د رسېدو لپاره مدیریت او رهبري له بنسټیزو عناصرو څخه ګڼل کېږي. نن ورځ اداري او سازمانونه له سالم او اغیزناک مدیریت د نشتون او هم د منسجمې رهبرۍ او ښې حکومتولي پرته نشي کولی چې خپلې موخې ترلاسه کړي. ننګرهار پوهنتون ساینس پوهنځی د هېواد قوانینو، د ننګرهار پوهنتون او د لوړو زده کړو وزارت ستراتېژیو ته په پام سره خپلې چارې ترسره کوي او د ښې حکومتولي په پلي کولو او سالمې رهبرۍ د رامنځ ته کولو به برخه کې بې دربغه هڅې او کوښښونه کوي. په دې برخه کې د اړتیا وړ ورکشاپونه، ټرینګونه او نورې مسلکي ښونیزې برنامې استادانو/علمي کادر غړو او کارکونکو ته په پام کې نیول شوي دي.

### ۸. ۲. د فساد پر وړاندې مبارزه

دا چې فساد یوه شومه پدیده ده او د پرمختګونو د مخنیوي لامل ګرځي، ساینس پوهنځی په پام کې لري چې د خپلو اړوندو چارو په برخه کې د هر ډول فساد مخنیوي په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د اداري فساد مخنیوي اړوند ټولییز پوهاوی
2. د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې د مقرراتو، لوایحو او قوانینو پلي کول او څارنه
3. په پوهنځي کې د فساد اړوند مواردو معلومول او ورته حل لارې پیداکول
4. د پوهنځي ټولي اداري څخه څارنه
5. د مجازاتو او مکافاتو د اصل رایجول او پلي کول
6. دفتري چارې له انالوګ څخه ډیجیټل سیستم ته اړول
7. د هر ډول غیر قانوني کړنو مخنیوی کول

### ۸. ۳. اداري بیروکراسي

په نړیواله کچه په ادارو کې بیروکراسي د چارو د ښه سمبالښت په برخه کې یوه منل شوې ستونزه ګڼل کېږي، بیروکراسي له سرچینو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې او ټاکلو موخې ته د رسیدو پر وړاندې د بنسټیزو خنډونو له جملې څخه ګڼل کېږي،پر همدې اساس، پوهنتون تل هڅه کوي چې د چارو د چټکتیا، روڼوالي او موثریت په موخه د بیروکراسۍ د لمنځه وړولو لپاره لاندې کړې ترسره کړي:

1. د برېښنایي حکومتولي عامول او ورته اړینې اسانتیاوې برابرول
2. د اداري کړنو د روڼتیا په موخه د کمپیوټري پروګرامونو رامنځته کول
3. په اداري چاروکې ګمارل شویو اشخاصو ته د مسولیت په پام کې نیولو صلاحیت سپارل
4. د سیستماتیکي څارنې او پلټنې د فعالیتونو ترسره کول او تنظیمول
5. خدماتي څارنه او ارزونه

### ۸. ۴. د عملیاتي پلان تاییدول

د ستراتیژیکو موخو لاسته راوړلو لپاره عملیاتي پلانونو او طرحې د وخت او امکاناتو په نظر کې نیولو سره د مدیریت یو بنسټیز اصل تشکیلوي، چې چارې په تاکل شویو وختونو کې په اغیزناکه توګه د مثبتو پایلو په لرلو سره ترسره شي. پر همدې اساس، پوهنتون د چارو د ښه سمون لپاره اړینه بولي چې د ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره علمیاتي پلانونه ترتیب او لاندې کړنې یې په اړه ترسره کړي:

1. د عملیاتي پلان په جوړولو کې د ښکیلو خواوو شریکول
2. د عملیاتي پلانونو د ترتیب او تایید څخه ډاډ ترلاسه کول
3. د عملیاتي پلانونو د پلي کېدو او تطبیق څارنه
4. عملیاتي پلانونو سره سم د اړوندو کړنو راپورونه ترتیب او وړاندې کول
5. د عملیاتي پلانونو د نه اجراء شویو چارو لپاره د تدابیري پلانونو ترتیبول
6. د عملیاتي پلانونو د اجراء لپاره د سرچینو او پایلو په نښه کول
7. د اړونده خواو سره د تطبیق لپاره د پلانونو شریکول

### ۸. ۵. د څارنې او ارزونې پیاوړې کول

څارنه او ارزونه د اداري چارو د ښه ترسراوي لپاره د مدیریت څلورم اصل دی، چې له مخې یې له یوې خوا د تېروتنو او اشتباهاتو مخنیوی کېږي او له بلې خوا ډاډ ترلاسه کېږي، چې چارې په معیاري ډول او له پلان سره سمې پر مخ لاړې شي. پر همدې اساس، څارنه او ارزونه د شفافیت رامنځته کولو او ستونزو لمنځه وړلو لپاره مهمه کړنه شمېرل کېږي او د چارو د پراختیا او پرمختګ سبب ګرځي. پوهنتون له پلان سره سم د خپلو چارو ترسراوي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه په دوامداره توګه د څارنې او ارزونې په برخه کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د رهبرۍ په کچه د چارو څخه لیدنه او تېروتنو د مخنیوي او سمون په موخه لازمي پرېکړې کول
2. د اداري کړنو په هکله له پوره دقت څخه کار اخستل
3. د علمي او اکاډمیکو چارو د ګرندیتوب لپاره له اوږدو پروسو ډډه کول
4. د څارنې او ارزونې لپاره د ځانګړو کمېټو رامنځته کول
5. د وړ نورمونو او معیارونو تاکل او تطبیق

### ۸. ۷. د پوهنځي د بودیجې زیاتوالی

پوهنځی هوډ لري په علمي، اداري او فزیکي برخه کې پراختیا ومومي چې په راتلونکي کې د یو پرمختللي پوهنځي په توګه وکولای شي په فوق العاده توګه خلکو او ټولنې ته با کیفیته خدمات وړاندې کړي. اړینه ده چې د لاندې چارو د ترسره کولو لپاره په خپله بودیجه کې په دوامداره توګه زیاتوالی رامنځته کړي، چې دې موخې ته د رسېدو په پار لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د شپې پوهنځیو فعالول او پراختیا
2. د اړتیا پر بنسټ د اسوشیېټ ډګري یا دوه کلنو علمي برنامو رامنځته کول
3. د اړوند ملي او نړیوالو شرکاوو (Stakeholders) سره ګډې څېړنې

4. لابراتوارونو پراخول او مجهز کول
5. لنډې مودې مسلکي روزنيز کورسونه رامنځته کول
6. د بهرنيو مرستو د جلب لپاره معياري پروپوزلونو ترتيبول

## ۹. د کريکولم پراختيا

د ساينس پوهنځی غواړی چې د خپلو علمي پروګروامونو کريکولمونه د وخت، بازار او نورو ښکېلو خواوو د غوښتنو او اړتياوو په پام کې نيولو سره د کريکولم د بياکتنې په ترڅ کې د نصاب موضوعاتو کې وخت په وخت نوي او مثبت بدلونونه رامنځته کړي. پوهنتون د خپلو اړوند علمي پروګرامونو د مثبت بدلون او د شرکاوو غوښتنوته د ځواب ويلو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د کريکولم کمېټې پياوړې کول
2. د کريکولم کمېټو غړو لپاره د اصلاحاتو په موخه نوې کړنلارې او پاليسي تهيه کول
3. د علمي کادر غړو لپاره د کريکولم د نوي والي او سمون په موخه د لازمو ترينڼګونو چمتو کول
4. د کرېکولم په بياکتنه او پراختيا کې د متخصصو اشخاصو، فارغانو او کارګمارنې مراجعو سره مشورېکول.
5. له کريکولم څخه د مطلوبو موخو د لاسته راوړلو په غرض ارزونه
6. له ټاکل شوي کريکولم سره سم د درسي موادو تهيه او برابرول
7. د کريکولم د پلي کېدو څخه د ډاډ په موخه د اړوندو علمي پروګرامونو څخه راپورونه راټولول

### ۹. ۱. د ښوونيزو موادو چمتو والی

ساينس پوهنځی په راتلونکو پنځه کلونو کې د ښه باور د ترلاسه کولو په موخه د خپلو علمي پروګرامونو د ښوونيزو موادو د چمتو کولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1. د نصاب او درسي موادو د سمون او ښه والي لپاره د کريکولم کمېټې چارو ته پراختيا ورکول
2. د سيمې د اړتياوو او غوښتنو سره سم د پوهنځي درسي نصاب برابرول
3. د کرېکولم کمېټې کړنې د نويو مېتودونو سره همغږې کول
4. د نصاب او کريکولم کمېټې چارو ته ځانګړې پاملرنه او پراختيا ورکول
5. د درسی موادو د پياوړتيا په موخه د علمي کادر غړيو د تاليفاتو چارو ته خاصه توجه کول او په دې برخه کې د هڅوی هڅونه
6. د پوهنځي د علمي کادر غړو لپاره د هېواد په داخل او له هېوادڅخه بهر د روزنيزو پروګرامونو برابرول
7. د ټولنې او زده کړيالانو د نظرياتو ترلاسه کول او تحليل

## ۱۰. د کيفيت تضمين او اعتبار ورکونه

ساينس پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1. د کيفيت د تضمين او لوړولو په موخه د اوږود مهال لپاره د مسلکي کاري ټيم لرل
2. په ټولنه کې د پوهنځي د اعتبار زياتولو لپاره د ټولنيزو ستونزو په حل کې فعاله ونډه اخېستل

3. په پوهنځي کې د ښو زده کړو ټولې اسانتیاوې برابرول
4. د نظري زده کړو په څنګ کې عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول
5. د کیفیت د ښه والي په موخه د نورو پوهنتونونو او تحصیلي موسسو سره همغږي
6. په زده کړو کې د تدریس نویو میتودونو څخه ګټه پورته کولو لپاره اسانتیاوې برابرول
7. د روزنیزو پروګرامونو پیاوړتیا او عامول
8. محصیلنو، اداري او علمي کادر غړیو ته کیفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوی ورکول
9. د پوهنځي په وسیله د اړونده پروسې خدماتي څارنه او ارزونه
10. د اړونده خواوو هڅونه او ژمنې ترلاسه کول

## ۱۱ . د برېښنايي زده کړو پروګرامونه

د علمي او څېړنيزو بهيرونو د پياوړتيا او موثريت لپاره پوهنتونونه خپلو اړوند ښکېلو خواوو ته د برېښنايي اسانتياوو په چمتوکولو سره هر اړخيز نوی والی او مثبت بدلون رامنځته کوي. د حضوري علمي پروګرامونو سره په څنګ کې پوهنتونونه اړ دي چې د انلاين کورسونو او ګډو زده کړو لپاره د انلاين سرچينو اسانتياوې رامنځته او ګټه ترې پورته کړي. د نوموړې چارې د ښه مديريت په موخه پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي.

1. د برېښنايي زده کړو کمېټې ته پراختيا ورکول
2. د برېښنايي زده کړو په اړه علمي کادر غړيو ته د ورکشاپونو برابرول
3. په ټول پوهنځي کې د برېښنايي زده کړو عامول
4. د برېښنايي زده کړو د پروګرامونو پلي کېدا څخه بشپړه څارنه
5. د برېښنايي زده کړو د ښه ترسراوي لپاره د يوې ځانګړې پاليسۍ(کړنلارې) رامنځته کول
6. د ټولو پوهنځي محصيلينو ته د برېښنايي زده کړو په هکله معالومات ورکول
7. د اسانتياوو برابرول

## ۱۲. معالوماتي ټکنالوژۍ ته لاسرسی

ساينس پوهنځی د معلوماتي ټکنالوژۍ څخه د خپلو چارو د انسجام او چټکيا په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. زېربېناوو ته پراختيا او وده ورکول
2. د اداري، تخنيکي او مديريتي چارو سمون او پراختيا
3. وای فای (WiFi) ته پراختيا ورکول
4. پوهنځی کې معالوماتي ټکنالوژۍ ته د لاسرسي په غرض د يو تن مسؤل ټاکل
5. د معالوماتي ټکنالوژۍ کار کوونکي ته روزنيز ورکشاپونه برابرول

## ۱۳. زېربناوې

پوهنتونونه او تحصيلي موسسې تل هڅه کوي چې د علمي او اکاډميکو پرمختګونو ترلاسه کولو په موخه مادي امکانات او د اړتيا وړ پراخه زيربناوې او تاسيسات ولري. همدارنګه اړينه برېښي چې د راتلونکي لپاره بنسټيزې او زيربېنايي پروژې پلي کړي چېپه پراخه کچه د لوړو زده کړو بېلابېلو پروګرامونو د

تطبیق وړتیا ولري. پوهنتون د زېربناوو د پراختیا په موخه د ماسټر پلان له مخې په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې چارې ترسره کوي:

1. د تدریسي خونو، کتابخانی او لابراتوارونو ، ترمیم او تجهیزول
2. د جیولوجي او معادن څانګې ته لابراتوار ایجادول
3. د پوهنځی د چاپیریال د شین او ښایسته ساتلو له پاره د نیالګیو نیالول
4. د شته ساختمان ترمیم او بیا جوړونه، تر څو استادانو، کارمندانو او محصلانو لپاره د زده کړې ، تدریس او کار ښه زمینه برابره شي.

**د لابراتوارونو او نورو ښوونیزو زېربېناوو پراختیا**

1. د ساینس پوهنځي ټول لابراتوارونه رغول او پراختیا ورکول

## ۱۴. د کادر غړو ظرفیت لوړول

علمي موسساتو د هر اړخیز پرمختګ یو مهم لامل د اړوندو ادارو بشري ځواک او کار کوونکي ګڼل کېږي. کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبرئ چارې په ښه ډول ترسره کوي او هم ورته د موخو تحقق لپاره بېلابېلې مادي او معنوي سرچینې رامنځته او ورڅخه موثره ګټه پورته کوي. پر همدې اساس، ساینس پوهنځی د پرمختګ او پراختیا لپاره په پام کې لري چې د علمي او اداري کاري ځواک د ظرفیت د کچې د لوړولو په پار لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کړي:

1. د علمي کادر غړو ته په ماسترئ او دوکتورا پروګرامونو کې د زده کړو زمینه برابرول.
2. د شتو مسلکي او منلو کادرونو څخه د پوهنځي په پرمختیایي او روزنیزو چارو کې ګټه پورته کول
3. پوهنځي پرسونل ته د نویو اړتیاوو د پېژندنې په اړه د داخلي روزنو او ټریننګونو فرصتونونو برابرول
4. په ښوونیزو مهارتونو، وړتیاوو او نوې ټکنالوژۍ باندې د علمي کادرونو سمبالول.
5. د غوره زده کړې او ښوونې د زیاتېدنې او وده ورکونې په موخه دلرې واټن د زده کړې لپاره اسانتیاوو برابرول.
6. د پوهنځي د منلو کادرونو، استادانو او غړو ساتنه.
7. پوهو او وړ استادانو له پاره د علمي ، څېړنیزو او عملي پروژو د عملي کولو اسانتیاوو برابرول.
8. د سمینارونو، کنفرانسونو، ورکشاپونو،سمپوزیمونو او د کورنیو او بهرنیو ښوونیزو کورسونو دایرول

## ۱۵. له علمي او غیر علمي نهادونو سره د اړیکو پیاوړتیا او پراختیا

علمي توامیتونه د تجربو شریکولو، ظرفیتونو لوړولو او مرستو په جلب کې د پوهنځیو سره ډېره مرسته کولی شي. ساینس پوهنځي په تېرو کلونو کې له بېلابېلو ملي او نړېوالو پوهنتونونو او ادارو سره توامیتونه لاسلیک کړي دي چې پوهنځي ته خورا ګټور تمام شویدي. پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې د شته توامیتونو ساتلو او د نورو توامیتونو کولو لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د بهرنیو اړیکو او مرستو د جلب کمېټې پراختیا او ورته د لازمو اسانتیاوو برابرول
2. یادې کمېټو ته پالیسي او اړوند ټول اداري اسناد چمتو کول

3. د يادې کمېټې چارو ته پوره پام لرنه او پراختيا ورکول
4. له دولتي اړونده ادارو څخه د هر اړخيزو مرستو ترلاسه کول
5. د کمېټې غړو ته د مالي امکاناتو د شتون په صورت کې د بهرنيو سفرونو برابرول

**۱۵. ۱. د مرستو جلبول**

په اوسني عصر کې هيڅ يوه اداره نشي کولی په يوازې ځان خپلې ټولې چارې په ښه ډول ترسره او خپلو موخو ته ورسېږي. نو بناً ټولې ادارې اړ دي چې د خپلو چارو د ترسره کولو په برخه کې داخلي او بهرنی همکارۍ او مرستې ترلاسه کړي. ساينس پوهنځی هم د خپلو چارو د ښه ترسراوي او پرمختګ لپاره کورنيو او بهرنيو مرستو ته اړتيا لري، چې د ترلاسه کولو په موخه يې لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کوي:

1. د مرستو د جلب او د اړيکو د ټينګولو کمېټو ته پراختيا ورکول
2. له مربوطه ملي او بين المللي ادارو سره تواميتونو لاسليکول او حد اکثر ګټه ترې پورته کول
3. کمېټو ته د اړونده چارو د ترسراوي لپاره د پلانونو او پاليسيو ترتيب او تهيه کول
4. د ترسره شويو تواميتونو او اړيکو څخه د پوهنتون په هر اړخيز پرمختګ کې موثره ګټه پورته کول
5. په ملي او نړيواله کچه له پوهنتونونو سره په علمي اوعملي چارو کې د همغږۍ رامنځته کول او فرصتونو مهيا کول
6. د پوهنځي د فزيکي او معنوي جوړښت او پرمختګ په موخه د حقيقي او حکمي اشخاصو څخه معنوي او مادي مرستو جلبول
7. د پوهنځي سره د مرستو لپاره د اړونده سرچينو هڅول

## ۱۶. لوړو زده کړو ته عادلانه لاس رسی

ساينس پوهنځی لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه علمي پروګرامونه په بېلا بېلو برخو (زياضي، فزيک، کېميا، بيولوژي او جيولوجي – معادن ) کې پرمخ بيايي. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د لاسرسي په موخه پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د لوړو زده کړو د اهميت په اړه عامه وګړو ته د عامه پوهاوي په پار هر اړخيز معالومات وړاندې کول
2. د کانکور له لارې په شفافه توګه زده کړو ته د لاسرسي زمينه برابرول
3. د وړتيا او ظرفيت په پام کې نيولو سره بېلابېلو علمي پروګرامونه ته د محصيلينو وريپژندل
4. له هر ډول توپير پرته هېوادوالو ته په مساويانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتياوې برابرول
5. د وخت او بازار د غوښتنو او اړتياوو په پام کې نيولو سره د نويو علمي پروګرامونو ايجادول
6. د ټولنې او اړونده خواوو سره د لاسته راوړنو شريکول

**۱۶. ۱. لوړو زده کړو ته پراخه لاسرسی**

ساینس پوهنځی په پراخه توګه لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه ګڼ شمېر علمي پروګرامونه په بېلا بېلو برخو کې پرمخ بیایي. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د پراخه لاسرسي په موخه ساینس پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو لاندې کړنې ترسره کوي:

1. په پوهنځي کې د ټولو علمي پروګرامونو څخه موثره ګټه پورته کول
2. خپلو علمي پروګرامونو د جذب ظرفیت ته پراختیا ورکول
3. عامه وګړو ته د علمي پروګرامونو په اړه پوره او نوي معالومات ورکول
4. د وخت له غوښتنو سره سم د نویو علمي پروګرامونو رامنځته کول

**۱۶. ۳. د کریډیټ سیستم پیاوړتیا او پلي کول**

د نړۍ ډېری پوهنتونونه د کریډیټ سیستم د اصولو په رڼا کې خپل روزنېز پروګرامونه پر مخ بیایي او له دې لارې محصیلینو د ښو پایلو لرونکو زده کړو او اسانتیاوو زمینه برابروي چې له یوې خوا محصلین وکولای شي له خپل توان سره سم د زده کړو بهیر پرمخ یوسي او له بل پلوه د نظري زده کړو سره په څنګ کې د اړوندو عملي زده کړو له اسانتیاوو څخه هم برخمن شي. پوهنځی د کریډیټ سیستم زده کړو د پیاوړتیا او معیاري کېدو په پار لاندې کړنې په پام کې لري:

1. د علمي کادر ټولو غړو ته د کریډیټ سیستم د عملي کېدو په اړه روزنیز ورکشاپونه پیلول
2. د کریډیټ سیستم د موثریت په اړه محصیلینو ته معالومات ورکول
3. په پوهنځي کې د کرېډیټ سیستم عملي کېدو څارل
4. د کرېډیټ سیستم په ښه بڼه د پلي کېدو په هکله تدریسي او اجرایوي مدیرانو ته پوهاوی ورکول
5. د پایلو پر بنسټ د زده کړو په نتیجه کې د کرېډیټ لایحې موخې ترلاسه کول
6. د شاګرد محوری د زده کړو دودول
7. د کرېډیټ لایحې په اساس د عملي زده کړو پیاوړي کول

**۱۶. ۴. د محصیلینو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا**

ساینس پوهنځی د محصلانو لپاره خدماتو، اسانتیاو او سهولتونو برابرولو ته ژمن دی، په همدې خاطر پوهنځی د غوره خدماتو او اسانتیاوو د پیاوړي کولو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. محصیلینو ته د علمي سفرونو زمینه برابرول
2. سپورتي اسانتیاوې برابرول
3. محصلینو ته د زده کړو د برابرولو ترڅنګ، د لازمو مهارتونو چمتووالی
4. د انټرنیټي پاڼو له لارې محصلینو ته پوره معالومات په واک کې ورکول
5. د محصلینو وړاندیزونو او شکایاتو ته لاسرسی
6. د علمي او عملي زده کړو په برخه کې محصلینو لپاره اړوندو سکتورونو سره د تواميتونو رامنځته کول
7. د محصلینو د علمي ظرفیت لوړاوي په موخه کتابتوني اسانتیاوو ته پراختیا ورکول
8. په پوهنځي او څانګو کې د اړوندو لابراتوارونو کیفیت او خدماتو ته پراختیا ورکول
9. محصلینو ته د ښې زده کړې لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول

10.په نړیوالو علمي سیالیو کې محصیلینو ته د برخې اخستنې زمینه برابرول
11.د علمي سفرونو تنظیمول
12.د حشر او داوطلب کارونو لپاره د زده کړیالانو هڅول
13.د زده کړیالانو لپاره د Internship د پروګرامونو ترلاسه کول او تنظیمول

## ۱۷. په ټولنه کې ونډه اخېستنه

پوهنځی د خپل لیدلوري ته په پام او د خپل اغیزمن ماموریت پربنسټ د خپلو اړوندو څانګو د علمي کادر د غړو او د مختلفو برنامو د محصلانو د څېړنو پایلې او موندنې له اړوندو ادارتو سره شریکوي ترڅو لدې لارې د ټولنې شته ستونزې په ګوته کړي او په حل کې یې فعاله ګډون وکړي. د نوموړې چارې د اغیزمن ترسراوي لپاره پوهنتون څېړنیز کلیسنونه دایروي چې پکې ټولو اړوندو ادارو (رسمي او خصوصي سکتور) ته د ګډون بلنه ورکول کېږي او لدې لارې له هغوی سره د استادانو او محصلانو د څېړنو پایلې او حل لارې شریکوي. همدا شان پوهنتون په نورو برخو کې هم په ټولنیزو موضوعاتو کې فعاله برخه اخلي. د ساري په توګه، پوهنتون هر کال یو یا دوه ځلې د هیواد ټیپانو او نور د وینې اړمنو ته د وینې راټلولو کمپاینونه ترسره کوي او په دې ډول د ټولنې له اړمنو سره مرسته کوي. تر دې وراخوا، پوهنتون هم د ځینو علمي برنامو په اصلاح او رغونه کې د ټولنې ګډون اړین ګڼي او همیشه له اړوندو ادارو او اشخاصو څخه په یادو برخو کې مرسته غواړي. د بیلګې په توګه د پوهنځیو د تدریسي کریکولمونو په جوړونه کې پوهنتون معمولاً اړوندې اداري او اشخاص دعوتوي او د بازار او مارکېټ، ټولنې او هیواد اړتیاو ته پام سره د ټولنې له وګړو سره په مشورې په درسي کریکولمونو کې اړین تغیرات راوړي ترڅو د پوهنتون فارغان تر فراغت وروسته لاس په کارشي او په اړندو برخو کې اغیزمن خدمت ترسره کړي.

## ۱۸. د داخلي عواملو تحلیل

ستراتیژیک پلانونه د علمي نهادونو ستراتېژیکي موخې ټاکي او همدغو موخو ته د رسېدو لپاره مسیر او اړوند لازمي کړنې په نښه کوي. موخې ته رسېدل تر هغې شونې ندي چې ترڅو پوهنځی خپله پیاوړتیا، کمزورتیا، فرصتونو او تهدیدونو څخه خبر او پر لاملونو یې غور ونکړي.
د دې لپاره چې پوهنځی د پورته ذکر شویو ټکو په اړه پوره مالومات له ځانه سره ولري، لازمه ده، چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره خپل معنوي او فزیکي انځور خپلې مخې ته کېږدي او خپلې ټولې مادي او معنوي زیرمې په هر اړخیزه توګه و ارزوي چېپه نتیجه کې د راتلونکو پرمختګونو او موخو ته د رسېدو بشپړ پلان ولري. پوهنځی یادې موخې لاسته راوړلو لپاره د داخلي عواملو تحلیل ترسره کوي:

**داخلي چاپیریال لاملونه**

| | ګڼه | داخلي چاپیریال لاملونه (قوی او کمزورې) | موزونې ضرېب | امتیازی وزنې | وزنې ضرېب |
|---|---|---|---|---|---|
| قوت ټکي | ۱ | پوهنځي ټول ۳۰ کادري غړي لري چې ټول په خپلو خپلو څانګو کې د ښو خدمتونو وړاندې کولو او د یو مثبت بدلون د رامنځته کیدو په هلو ځلو کې دی. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| | ۲ | د لوړ رتبه او تجربه لرونکې استادانو او اداری پرسونل لرل . | 0.02 | 4 | 0.08 |
| | ۳ | فارغ شوي کادرونه د پوره وړتیا درلودونکي دي او استخدامونکي ادارې ورڅخه خوښې څرګندوي. | 0.03 | 3 | 0.09 |
| | ۴ | د غوره اکاډمیک ماحول په درلودلو سره د ټولو ډیپارټمنټونولپاره تر یوه حده لابراتوارونه او همدرانګه د عملي کار له پاره اسانتیاوې شتون لري. | 0.03 | 3 | 0.09 |


| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ۵ | د تدریس د نویو میتودونو سره د استادانو بلدتیا او پوهاوي او د یادو مېتودونو پلې کېدل شروع شوي دي. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| | ۶ | د پوهنځی او ډیپارتمنتونو په کچه د ستراتیژیکو پلانونو شتوالی | 0.04 | 4 | 0.16 |
| | ۷ | د ځېنو بهرنیو مرستندویه ادارو د پوهنځی سره اړیکې. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| | ۸ | د فارغو محصلینو وړتیا او د ګمارنې لپاره امکانات. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| | ۹ | محصلینو ته د فراغت د اسنادو د تهیه کولو په برخه کې د پروسې چټکوالی. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| | ۱۰ | د استادانو او مامورینو د انتقال لپاره د کافي ترانسپورتی سیستم شتوالی. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ضعف ټکي | ۱ | د علمي، اداري او مالي خپلواکی نه شتون | 0.06 | 2 | 0.12 |
| | ۲ | د پوهنځي په کچه د خپل منځي همغږی او همکاری کمزوري. | 0.05 | 2 | 0.10 |
| | ۳ | کلاسیک اداري سیستم او بریښنایي حکومتولي نه شتون | 0.05 | 2 | 0.10 |
| | ۴ | د تدریسی پروسې د ښه تطبیق لپاره د کافي شمیر استادانو کموالی | 0.05 | 2 | 0.10 |
| | ۵ | د دوکتورا درجو لرونکو استادانو د شمیر کموالی | 0.03 | 2 | 0.06 |
| | ۶ | د پوهنځی یو شمېر استادان اوس هم د درسي موادو په تهیه کولو کې له نویو او مشهورو نړېوالو درسي کتابونو او څېړنېزو مقالو ګټه نه پورته کوي. | 0.04 | 2 | 0.08 |
| | ۷ | بیروکراسي او د اړتیا پرته کاغذپراني | 0.04 | 2 | 0.10 |
| | ۸ | په بهرنیو ژبو په ځانګړي ډول په انګلیسي ژبه د ډېرو استادانو نه بلدتیا. | 0.06 | 2 | 0.12 |
| | ۹ | د یو شمېر استادانو لخوا د کمپیوټر او په ځانګړې توګه د نوې ټیکنالوژی کارونه او د هغې په ارزښت د پوهیدنې نشوالي. | 0.03 | 1 | 0.03 |
| | ۱۱ | د لوړو زده کړو وزارت لخوا د ظرفیت څخه د زیات شمیر محصلینو معرفي کېدنه. | 0.05 | 2 | 0.10 |
| | ۱۲ | د محصلینو خراب اقتصادي وضعیت. | 0.05 | 2 | 0.10 |
| | ۱۳ | د معیاری لابراتوارونو او کافي شمېر تکنشنانو نشتوالی. | 0.05 | 2 | 0.10 |
| | ۱۴ | د پوهنځی په کچه د معلوماتی تکنالوژیکي وسائلو کموالی. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| | | ټول | 1 | | 2.57 |

**بهرنې چاپیریال لاملونه**

| ګڼه | بهرنې چاپیریال لاملونه (فرصتونه او ننګونې) | وزني ضریب | امتیاز ی وزني | موزون ي ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د نړیوالو موسیساتو او هیوادونو د اړیکو رغونه. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۲ | د مرکز او ولایاتو په کچه له نورو دولتي او نا دولتي نهادونو سره د دایمي اړیکو د رغولو شونتیا. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۳ | د زده کړو لپاره د ټولنې په بیلا بیلو قشرونو کې د کافي لیوالتیا او انګیزي شتون | 0.04 | 4 | 0.16 |
| ۴ | په بیلا بیلو برخو کې کارپوهانو او ماهرینو ته د ټولنې اړتیا | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۵ | د فارغ التحصیل زده کړیالانو لپاره د کارمندنې اسانتیاوې | 0.03 | 3 | 0.09 |
| ۶ | د فیلوشیپ او سکالرشیپ د اسانتیاوو شتوالی | 0.03 | 3 | 0.09 |
| ۷ | په ټولنه کې د هر اړخیزه پرمختک لپاره د مناسبو شرایطو موجودیت | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۸ | د پوهنځی سره د ټولنې د بیلا بیلو طبقو همکاري. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۹ | په برنامې کې د شمولیت په موخه د نورو علمي دولتي او خصوصي نهادونو د کادرونو لیوالتیا | 0.09 | 4 | 0.36 |
| ۱۰ | د پوهنځی اړتیاوو مطابق د بودیجې کمښت | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۱۱ | د لوړو زده کړو په کچه د منظمو علمي او انکشافي ستراتیژیو په تدوین کې د پوهنځیو نا څیزه ونډه | 0.06 | 2 | 0.12 |
| ۱۴ | د کانکور له لاری د یو شمیر ټیټې سویې لرونکو زده کړیالانو معرفي کېدل | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۵ | پوهنځیو ته د فرصتونو او منابعو نا انډوله ویش | 0.05 | 2 | 0.1 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | د پوهنځی په کچه د څیړنیزو پروژو په تطبیق کي د زیربطو اداراتو لږه همکاري | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۷ | د بازار د غوښتنو سره سم د کریکولمونو په تقویت کي د بازار او ذیربطو اداراتو سره د پوهنځی وانټن درلودل | 0.03 | 2 | 0.06 |
| ۱۸ | د کانکور له لاري د پوهنځی له ظرفیت څخه په لوړو تعداد د محصلانو معرفي. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| ۱۹ | د مغزو فرار Brain Drain | 0.07 | 1 | 0.07 |
| | میزان | 1 | | 2.52 |

د څلورم او پنځم جدول د پایلو له مخې، داخلي لاملونو نمرې ۵۷،۲ او د بهرنيو لاملونو ۲،۵۲نمرې دي. د ترلاسه شويو داخلي او بهرنيو لاملونو له مخې دې پايلې ته رسيږو، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی په تهاجمي ساحه کي موقعيت لري چي تر ټولو ښه وضعيت دی. ياد پوهنځی بايد د خپل کيفيت، رول او حيثيت د ښه والي په موخه له شته فرصتونو څخه په استفادې له خپل توان څخه زياته ګټه پورته کړي.




**ګراف ۱: د سازمان بشپړي ستراتيژی تعين**

## ۱۹. لندمهالي موخي

د ساينس پوهنځي ستراتيژيک پلان جوړوني څخه موخه د لوړو زده کړو د بهير چټکتيا او ښه والی دی چي په ټولنه کي د شته ناورينونو او ستونزو پای ته رسيدو په برخه کي خپله ونډه واخلي. د ساينس پوهنځی د ټاکلي ماموريت او معيارونو په پام کي نيولو سره داسي وړ، مسلکي او معياري کادرونه روزي چي د ټولني په پرمختګ او د ستونزو په حل کي د اغيزناک خدمت وړاندې کولو جوګه شي. ساينس پوهنځی پورته ارزښتونو او ليدلوري ته د رسيدو لپاره لاندې موخي تعقيبوي:

1. په راتلونکو پنځه کلونو کي د (۲) دوه پروګرامونو زياتوالی او د شته برنامو لا معياري کول.

2. د پروګرامونو پېل کولو او زیاتولو په موخه د علمي کادر غړو لپاره د نورو لوړو زده کړو زمینه برابرول.
3. د ښو علمي او څېړنیزو پرمختګونو په موخه څېړنیز مرکزونو درلودل
4. د زون په کچه د دولتي او خصوصي پوهنتونونو له پوهنځیو سره د ښو علمي او اکاډمیکو کړنو همغږیو لرل
5. په دوامداره توګه د وخت د شرایطو او بازار د غوښتنو په پام کې نیولو سره معیاري زده کړې وړاندې کول

## ۲۰. عملیاتي برنامو تدوین

ساینس پوهنځی د ستراتیژیو له اولویت بندۍ او د لنډ مهاله موخو د ټاکلو څخه وروسته لویو موخو ته د رسیدو لپاره عملیاتي برنامې تدوین کړي چې د هر کال عملیاتي پلان د ستراتیژیک پلان د ښه پلي کولو په موخه په خورا دقیق ډول تدوین شوی دی. البته د پوهنخي عملیاتي پلانونه وخت او حالاتو ته په کتنې او هم د هر تیر شوي کال نا ترسره شوو کړنو ته په پام سره د تغیر وړ دي. د پوهنځي عملیاتي پلانونه له ستراتیژیک پلان سره د ضمیمې په شکل یوځای شوي دي.

## ۲۱. د مالي پلان جدول

**د لوړو زده کړو وزارت**
**ننګرهار پوهنتون**
**د ساینس پنځه کلن مالي پلان(۱۴۰۱-۱۴۰۵)**

| ګڼه | جنس/ فعالیت/ پروژې نوم | تعداد | في قیمت | مجموعي قیمت په افغانی | د پیل کال | د پای کال | مالي منبع | حالت | د تطبیق ساحه | لومړیتوب حق |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پروجکتورونه EpsonH39b; EB-Xo5EUL | 6 | 50000af | 300000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۲ | د پوهنځي د تخریب شوو برخو ترمیم | 200 متر مربع | 1000af | 200000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۳ | دفترونو لپاره یو نفري چوکۍ | 30 | 3500af | 105000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۴ | میزونه | 5 | 5000af | 25000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۵ | د تخریب شوو ګریزرونو بیا ترمیم | 15 | 3200af | 48000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۶ | د تعمیر د تخریب شویو بنیینو بیا نصبول | 1420 فوټه مربع | یو فوټ مربع 98af | 347000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۷ | Hp laser jet M1132MFP 85A پرینټرونه | 4 | 40000af | 160000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۸ | SONY LCD | 8 | 44000af | 352000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | یخچالونه | 4 | 20000af | 80000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۱۰ | فرش او فوم | 108m | 620af | 67000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۱۱ | د کمپیوتر لیب لپاره موسونه | 20 | 100af | 2000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۱۲ | ګرین بوردونه | 20 | 500af | 10000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۱۳ | د تشنابونو بیا ترمیم | 12 | 10000af | 120000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۱۴ | د ایرکندیشنونو بیا ترمیم او تغیر مکان | 20 | 4000af | 80000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۱۵ | د کاپي ماشینونو ترمیم | 6 | 2000af | 12000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۱۶ | د چوکیو ترمیم | 500 | 30 af | 15000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۱۷ | د اوبو واټر پمپ | 1 | 11000af | 11000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۱۸ | د داوبو د تصفیي ماشینونو ترمیم | 12 | 2000af | 24000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۱۹ | د پکیو ترمیم | 40 | 80af | 3200 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | د پوهنځي قرطاسیه( کاغذ، پاکټونه، قلمونه، سنجاق...) | | 100000af | 100000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۲۱ | د کمپیوټر لپاره کیبورډونه | 12 | 500af | 6000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۲۲ | د Hemis کاروني لپاره یو لوړ ورژن کمپیوتر | 1 | 60000af | 60000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۲۳ | د تشنابونو تیزاب | 200 | 100af | 40000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۲۴ | د دیپارتمنتونو لپاره کمپیوټري تختي | 10 | 15000af | 60000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۲۵ | برقي راډونه | 200 | 100af | 20000 | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۲۶ | برقي جارو | 1 | 2500af | 2500 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۲۷ | پوهنځي لپاره د ځار کمري | 10 | 15000af | 150000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۲۸ | د ریاضي دیپارتمنت لپاره لابراتواري وسایل او مواد | د دیپارتمنت په مالي پلان کې مشخص شوي | د دیپارتمنت په مالي پلان کې مشخص شوي | 2461000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۲۹ | فزیک دیپارتمنت لپاره لابراتواري وسایل او مواد | د دیپارتمنت په مالي پلان کې مشخص شوي | د دیپارتمنت په مالي پلان کې مشخص شوي | 6000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | د کیمیا دیپارتمنت لپاره لابراتواري وسایل او مواد | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | 6000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کي به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۳۱ | د بیولوژي دیپارتمنت لپاره لابراتواري وسایل او مواد | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | 4000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کي به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۳۲ | د جیولوجي او معدن دیپارتمنت لپاره لابراتواري وسایل او مواد | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | 5000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کي به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۳۴ | د ریاضي دیپارتمنت لپاره اړین کتابونه | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | 1000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کي به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۳۵ | د فزیک دیپارتمنت لپاره اړین کتابونه | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | 4000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کي به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۳۶ | د کیمیا دیپارتمنت لپاره اړین کتابونه | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | 4000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کي به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۳۷ | د بیولوژي دیپارتمنت لپاره اړین کتابونه | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | 3000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کي به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۳۸ | د جیولوجي معدن دیپارتمنت لپاره اړین کتابونه | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | د دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | 3000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کي به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |
| ۳۹ | د پوهنځي په کچه د استادانو ظرفیت لوړونه | د هر دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | د هر دیپارتمنت په مالي پلان کي مشخص شوي | 50000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کي به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۰ | د پوهنځي په کچه خیرني | د هر دیپارتمنت په مالي پلان کې مشخص شوي | د هر دیپارتمنت په مالي پلان کې مشخص شوي | 25000000 af | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | لوړو زده کړو وزارت | د امکان په صورت کې به جریان ولري | ساینس پوهنځی | زیات |

په پورته توګه د ساینس پوهنځي پنځه کلن مالي پلان ترتیب او د پلان او پالیسی کمیته کې تر ارایې وروسته تائید او په ع________________ ګڼه پروتوکول کې ثبت دی.

**د پلان او پالیسی کمیتي مشر**
**پوهنمل الله نظر عاطف**

یاد پلان د پوهنځي په علمي شورا کې مطرح د رایو په یوالي تائید او په ع________________ ګڼه پروتوکول کې ثبت دی.

**د شورای منشی**
**پوهندوی محمد جواد نیازی**

**د ساینس پوهنځي رئیس**
**پوهنمل رفیع الله رفیع**

**۲۲. پایله**

دغه ستراتیژیک پلان چې د ( ۱۴۰۱ – ۱۴۰۵ ) کال پورې چمتو شوی دی، ساینس پوهنځي اداره هڅه کوي چې یاد فعالیتونه د ټاکلو موخو د ترلاسه کولو لپاره په خپله ټاکلې نېټه عملي کړي. د پوهنځي اداره به کوښښ وکړي چې ننګرهار پوهنتون، د لوړو زده کړو وزارت او نور مرستندویان وهڅوي چې د پوهنځي د فزیکي رغونې او معنوي پیاوړتیا لپاره امکانات چمتو کړي. د دې چارې د ترسره کېدو لپاره دپوهنځي، ننګرهار پوهنتون د ځوانو استادانو کوښښونه د پوهنتون ادارې ته د خوښۍ زېرې او هیله بخښوونکي دي.

دغه ستراتیژیک پلان د ساینس پوهنځی راتلونکې تګلاره او همدارنګه د اکاډمیکې برترۍ ترلاسه کولو لپاره د دې پوهنځی د منسوبینو او استادانو تعهدات ټاکي. د دې پلان په بریالیتوب سره پلي کول همغږي فعالیتونه، همکاري او د ستراتیژیکو اهدافو لاسته راوړلو لپاره متمرکزه کړنو ته اړتیا لري. د ستراتیژیک پلان د تطبیق څخه د څارنې ځانګړې کمیټه به په دوامداره ډول د پلان تطبیق، تکرار او اغېزمن پلي کېدنې پروسې څخه څارنه کوي تر څو یقیني شي چې د ساینس پوهنځی په اوږده مهال کې رقابت کوونکی، نوښتګره او اغېزمنه واوسي. د اکاډمیکې برترۍ ترلاسه کولو لپاره به د ساینس پوهنځی لرلید د دې پوهنځی عهد او پېمان واوسي.

دا ستراتیژیک پلان به د په ښه شویو پروګرامونو او عملي پلانونو په واسطه د ساینس پوهنځی د هرې یوې برخې او ډیپارتمنتونو په مرسته پلی شي. هر یو ډیپارتمنت باید په خپله محدوده کې د کارونو د ترسره کولو لپاره ستراتیژیک او عملي پلانونه ولري. د ساینس پوهنځی ریاست دنده لري چې جوړ شوی ستراتیژیک پلان ټولو ډیپارتمنتونو او اداری غړو ته تشریح کړي.

د اړونده شاخصونو او اهدافو په نظر کې نیولو سره به د دې ستراتیژیک پلان د پلې کېدو د چارو څخه نظارت ترسره شي. د ستراتیژیک پلان د پلې کېدو د نظارت له لارې به په ستراتیژیک پلان تمرکز وساتلی شي.

ساینس پوهنځی به د دې ستراتیژیک پلان اهدافو لاسته راوړلو لپاره د څارنې او ارزونې یو تفصیلي پلان رامنځته کړي چې له مخې به یې د ډیپارټمنټونو او کمیټو سره په هغمږۍ د لویو او کوچنیو اهدافو د راسته راوړلو بهیر څارل کیږي.